# پښتو ټپه کښې ځینې قامي او جنګیالي کردارونه

# Some National and Warlike Character mentioned in Pashto Tappa.

Dr.Noor Muhammad (Danish Bettani)[1]

**Abstract:-**Pashto Tappa is the most popular genre of Pashto Folk Literature.It is called as the pioner of Pashto poetry.Pashto Tappa is the collection of various romantic, social, nationl, religious folklori subjects. This is why a Tappa is called a subject itself.Epical events and heroes are repeatedly described in Pashto Tappa, ranging from local history to religious happening .Most of the Pashtuns worriers like, Ahmad shah Abdali,Aimal Khan,Ajab Khan,Multan Khan ,Chamnay Khan,are paying tremendous tributes. Similarly Ismamic personalities, heroes, their heroism have been given wide space in Pashto Tappa. In this paper such Characters, personalities and roles will be discussed in depth.

**Keywords:-** Pashto,Pashto Poetry,Folk Poetry,Personalities,History,Pashtuns.

پښتو ټپې په خپلې ارتې سینې کښې د پښتنو د ژوند سره تړلي هر اړخیز حالات او واقعات خوند کړي دي چې دغه حالات او واقعات سیاسي هم دي تاریخي او روماني هم، مذهبي رنګ هم لري وطني او حماسي هم۔ همدغه وجه ده چې په پښتو ادبیاتو کښې ټپه هغه یوازېنے صنف دے چې د تاریخ په اوږدو کښې ئې د هر دور د حالاتو او واقعاتو سره سمه د پښتنو د ژوند د اجتماعي او انفرادي نفسیاتو،کېفیاتو او محسوساتو ترجماني کړې ده۔

څومره چې انساني تاریخ زوړ دے جنګ هم هومره قدامت لري ځکه چې کۀ یو خوا ژوند پخپله جنګ دے نو بل خوا انسان د خپلې

[1] Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar.

بقا او سلامتۍ دپاره تل په جنګ کولو مجبوره شوے دے چې یا یې د خپلې دفاع په خاطر او یا یې د خپلو خواهشاتو د تر سره کولو دپاره جنګونه کړي دي کۀ وګورو دزمکې په مخ د لومړني انسان د قتل په شاه هم د خواهش شدیده جذبه لیدل کیږي چې ورورېې د ورور په قتل کولو مجبوره کړے دے لکه په دې ټپه کښې چې ورته اشاره شوې ده۔

"هابیل قابیل وو سره ورونه
نفس ظالم شو په خپل مېنځ کښې تباه شونه"[i]

د پښتنو د تاریخ نه دا په ډاګه کیږي چې دوي د تاریخ په اوږدو کښې د مختلفو جنګونو سره مخ شوي دي لکه څنګه چې په موجوده وخت کښې پښتانۀ د مختلفو ستونزو سره مخ دي دغسې په تېرو وختونو کښې هم د مختلفو مشکلاتو سره مخ پاتې شوي دي او همدغه وجه ده چې په نړیوال تاریخ کښې پښتانۀ د یو جنګیالي قام په صفت وړاندې شوي دي او د وخت د هېڅ زورواک په وړاندې نۀ دي تسلیم شوي د خپلې وینې قربانۍ ئې ورکړي او د خپلې خاورې وطن او ناموس نه یې دفاع کړې ده همدغه وجه ده چې ځینې مېړونه یې په سندرو او ټپو کښې یاد شوي او د خوشحال بابا د دې شعر حقیقت یې په ډاګه کړے دے لکه چې وایي:

"مېړني دي چې یادېږي
په سندرو هم په وير"[ii]

پښتو ټپه دومره ډېره غني ده چې څو قسمه جنګي کردارونه لري چې دلته ترې مونږ یوازې څو پښتانۀ قامي جنګیالي کردارونه راوړو.

## ملک خالو

ملک خالو د سلطان محمود غزنوي په دور کښې تېر شوے دے د دۀ په هکله په پښتو ټپو کښې یوازې یوه ټپه لیدلے کیږي شاغلے ډاکټر جهان عالم د دې په هکله لیکي:

"کله چي په کال ۱۰۱۲عیسوي کښې محمود غزنوي د هندوستان په لور د تاخت کولو په نيت تللو نو د دهٔ په لښکر کښې د ګومل دري يو ملک چې نوم يې خالو و هم شرکت درلود ځوک چې ډېر وخت د خپلې چنغلې نه بېرته او لرې پاتې شوے و هغه چې کله د خپل خاوند دلښکرد راتګ نه خبره شوه نو بې اختياره يې د خلې نه وخاتۀ"[iii].

"چې د خالو لښکرې راشي
زۀ به ګومل ته د خپل يار ديدن له ځمه"[iv].

## احمد شاه ابدالي

احمد شاه ابدالي ځوک چې په تاريخ کښې يو پښتون فاتح تېر شوے او ډېر زيات جنګونه ئې کړي دي ښاغلے مير غلام محمد غبار دوي داسې را پېژني:

"احمد شاه بابا افغان احمد شاه پر (۱۱۳۵ع) کال په هرات کښې وزېږېد چې (۱٦) کلن شوبه (۱۱۵۰ع) کال يې په کندهار کښې د خوراساني نادرشاه له دربار سره اړيکي وموندل چې(۲۵)کلن شو پرکال (۱۱٦۰ع) په همدغه ښار کښې ټولواکی ته ورسېداو چې يوپنځوس کلن شو پر (۱۱۸٦ع)کال د کندهار په اړوند توبه غر کې يې له نړی سترګې پټې کړې"[v].

د احمد شاه بابا په هکله ويل شوي ځو ټپې په لاندې ډول راوړو.

"احمده خداے دې جنتي کړه
تر هندوستانه پورې چا کړې جنګونه

اسمان به خود زما په خوا وي
چي د احمد د بېرغ لاندې جنګ ته ځمه".
"دا هره مور به زامن راوړي
د احمد شاه په شان به لږ لږ پېدا
شینه"[vi]
"احمده خدا ے دې جنتي کړه
چې د پښتون نوم دې کړ جګ په وطنونو"
"احمده رب دې جنتي کړه
تر هندوستان پورې دې کړي جهادونه"[vii]

## وزیر اکبر خان

وزیر اکبر خان یو هغه پښتون ننګیالے او جنګیالے دے چا چې د انګرېزانو سره ډېرې جګړې کړې دي او په کال ۱۸۴۱ع کښې یې انګرېز سفیر مکناټن وژلے دے په ټپو کښې داسې یاد شوے دے:

"د اکبر خان غازي په توره
وطن رڼا شو دشمنان په ماتې ځینه
د توریالي اکبر لهٔ برمه
ځوانان دنګ توري وهي سر ورکوینه
کهٔ جهان مري اکبر دې نهٔ مري
و خو ښه ځوان دے بل یې کړي
جهادونه".[viii]

## رامداد خان

رامداد خان په پښتو ټپه کښې د رامداد او رحمداد په نومونو د یو جنګي کردار په حېث یاد شوے دے د دوي په هکله د ویل شویو ټپو نه دا په ډاګه کیږي چې دوي د کوپر سیمې سره تعلق لرلو.

عبد الکافي ادیب د دوی په باره کښې لیکي:

"د مردان کوپر نومي کلي یو
مېړنےرحمداد خان د فېرنګیانو خلاف د

کوپر په جنګ کښې سخت ژوبل کور ته
راغے نو د کور يوې زنانه د خلې نه
د دعا په طور دا ټپه وخته"[ix]

"رامداد دې دا واري خداے روغ کړي
کۀ دوباره په کوپر جنګ وي مړ دې
شينه".[x]

په پښتو ټپه کښې د رامداد خان په هکله ډېرې
زياتې ټپې ليدل کيږي چې دلته ترې څو ټپې
راوړو:

"د خان رامداد پالنګ ئې راووړ
خلکو د سرې ډولۍ کول پرې
کمانونه
د رامداد خان د مرګ اواز شو
پاس په اسمان کښې زانو وران کړل
کتارونه".
"خور ئې مخ سر په وهلو شين کړو
چې د رامداد د مرګ خبر يې واوريدنه".
"رامداده جنګ کښې په شاه نۀ شې
ماته به جوړ کړې د امزريو پېغورونه".
"مسين تالے ورسره کېږدئ
رامداد سخي دے مېلمانه عذر کوينه
رامداد يې سور په وينو راوړو
مور يې نارې کړې سره ډولۍ د رامداد
ځينه".
"د ملاکنډ بازاره وران شې
در کښې خرڅيږي درامداد د کور
شالونه".
"رحمداده خړې جامې وکړه
په کوپر راشه جينکۍ دې يادوينه".
"چې رامداد خان دې وويشتلو
ټوپکه مات شې دلوهار په سندانونه
مېندې دې داسې زامن راوړي
لکه رامداد چې رانېزۍ راوړے وونه".

"وار د رامداد د پګړی تېر شو
نوردي مهمند په پګړی نه وهي لاسونه"۔
"رامداده جنګ کښې په شاه نه شي
ماله به جوړ کړي د همزولو پېغورونه
د سم رانېږي درته تپه شو
رامداده نیسه د ختکو زیارتونه"۔
"رامداد پښتون په پښتو لاړو
ورپسي ګوره لوي واړه ژړا کوینه
رامداده لاړي زه دې پریښوم
زه به دا عمر جدا ځنګه تېرومه"۔
"رامداد یې سور په وینو راوړو
خور یې نعرې کړې لالا ایښي دي
ګلونه"۔[xi]

## پیر روښان

خپل نوم ئې بایزید انصاري دے او په پیر روښان سره پېژندلے شي پیر روښان په خپل دور کښې د توري او قلم دواړو ښتن تېر شوے دے چې یو خوا ئې د مغلو خلاف ډیر جنګونه او کلکه مبارزه کړې ده او بل خوا ئې پرېمانه کتابونه هم لیکلي دي د پیر روښان مبارزه د پښتنو په سیاسي او د پښتو په ادبي تاریخ کښې د روښاني تحریک په نوم یادیږي ۔

د دوی په هکله علي خان محسود لیکي:

"پیر روښان یعني بایزید انصاري۱۵۲۵ـ۱۵۷۲عیسوي
مطابق۹۳۱ـ۹۸۰هجري پوري ژوند کړے
و"۔[xii]

د پیر روښان په هکله ویل شوې ځو ټپې په لاندې ډول راوړو.

"د مغل ظلم به نسکور کړي
چې پیر روښان توره په لاس جنګ له

وږځینه
کهٔ روښانیان سره یو ځاے شول
مغول به واړه په پهانسی وخېژوینه
پیر روښان زبرګ دے هم عالم دے
ظلم زیاتے به د مغولو خاورې کړینه"۔

## هارون

هارون دپښتو ټپې یو پښتون جنګي کردار دے چې د ملاکنډ دخاورې سره تعلق لري او د ملاکنډ په غزا کښې یې د انګرېزانو خلاف خپله مېړانه ښودلې او په پوره زړورتیا جنګېدلے دے ۔

ددوی په هکله محمد پروېش شاهین لیکي:

"د هارون خان سلارزے د ملاکنډ د غزاشهید دے د فېرنګیانو یو توپ چې ګوله باري یې کوله هارون خان په فېرنګي ورغے چې هغهٔ ورته توپ سماوهٔ دهٔ بیا په توره دوه کړے و او چې هرکله یې پرې توره اوچتوله نو دا یې ووې"۔[xiii]

"په ملاکنډ توره تیارهٔ شوه هارونه توره ځلوه چې رڼا شینه"۔[xiv]

## ارسلا خان

ارسلا خان د پښتو ټپې یو هغه جنګي کردار دے چې د دوي په شمول د دوي اولادونه هم په ټپو کښې په داسې انداز کښې یاد شوي دي چې دا ترې په اسانه څرګندېږي چې د دوي ټوله کورنۍ د انګرېزانو لهٔ خواځورول شوې ده۔

د دوی په هکله عبدالکافي ادیب لیکي:

"ارسلا خان نومي يو يوسفزي سردار سره
د فېرنګيانو دښمني راغله ټول عمر
ورسره اړم و تر دې چې يو جنګ کښې
شهيد شوفېرنګيانو د هغۀ مال اسباب
لوټ کړووبچي يې ورله در په در خوار
و زار کړل لونه يې ګرفتارې شولې او
جنرل رابرټ ته وړاندې کړے شوې".[xv]

د ارسلا خان او د دوی د لونو په هکله څو ویل شوې ټپې په لاندې ډول راوړو:

"د ارسلا خان قجيرې لونه
نن د رابرټ په مخکښې ځي سرتور
سرونه".
"چرګه چرګورې دې په شمار کړه
ارسلا خان د چرګو اخلي قلنګونه".
"د ارسلا خان قجيرې لونه
اوس د فيرنګ په مخکښې ځي سرتور
سرونه
".
"د ارسلا خان قجيرې لونه
اوس د باټي په مخکښې ځي سرتور
سرونه".[xvi]

## مير زمان خان

مير زمان خان هم لکه د ارسلا خان د پښتو ټپې يو هغه کردار دے چې سره د اولادونو په ټپو کښې ياد شوے دے فرق يې صرف دا دے چې ارسلا خان او د هغۀ کورنۍ د انګرېزانو لۀ خوا در په در خاورې په سر شوې وه او مير زمان خان سره د خپلې کورنۍ د خپل مسلمان ورور او وطنوال د لاسه در په در کډه په سر شوې وه. ميرزمان خان څوک او د کوم ځاے و او د چا د لۀ خوا ظلمونه ورسره شوي و په دې هکله محمد نواز طائر ليکي:

"مير زمان خان د کونړ د علاقې يو
درونډ خان او اولسي مشر و د ۱۹۲۷ع
په انقلاب کښې د امير امان الله خان

ډېر کلک ملګرے و هر کله چې د غازي
امان الله خلاف د فيرنګي په سازش تيار
شوے انقلاب کامياب شواو بچه سقاؤ
په اقتدار کښې راغے نو هغهٔ انتقاماً
د مير زمان خان او دهغهٔ د خېلخانې
په نورو افرادو بې اندازې ناروا
ظلمونه وکړل".[xvii]

## د مير زمان خان او د دوي د کورنۍ سره د شويو ظلمونو منظر په لانديدنو ټپو کښې ليدلاے شو.

"د مير زمان مغلې لوښه
د سرکاڼي په ډاګ کښې وړي ټولوينه
ما درته وې شېګل ته مهٔ ځه
تا فرانسي توپې ته تړي ژړي راځينه
".
"د شين کوډک په بره ډډه
ژړا يې خېژي د خانانو کډه ځينه
ما درته وې شېګل ته مهٔ ځه
ميرزمان خانه فرانسو ته دې تړينه ".
"ما ورته وې شېګل ته مهٔ ځه
دشمن ظالم دے تابه توپ ته وتړينه
د مير زمان کالهٔ ته وايئ
مير زمان نشته ور دې نهٔ بېرته کوينه
".
"مير زمان داسې ارمان وکړو
د ننګيالو جرګې به څوک راټولوينه ".
"د شين کوډک په جماعت کښې
په سره لونګۍ يې دېګانان وران شوي
دينه ".
"د مير زمان کډې ته وايئ
د توريالي په توره زنګ
ولګېدونه"[xviii]

ميرويس خان

میرویس خان چې پښتانهٔ یې په میرویس نیکهٔ سره پېژني د شالم خان مشر زوی دی چې په قبیله هوتک دی مور ئې نازو انا نومیږي چې د پښتو ژبې شاعره تېره شوې ده میرویس خان نیکهٔ په ۱۰۸۴ هجري قمري کښې پېدا شوی او په ۱۱۲۷ هجري کښې یې لهٔ دې فاني نړۍ نه رحلت کړی دی مزار یې د قندهار د نوي ښار د کوکران په کلي کښې دی۔

د میرویس خان د بې شمېره کارنامو نه یوه کارنامه دا ده چې د صفوي حکمران گرگین نه یې خپل هېواد او خپل اولس په ډېر تدبر سره ژغورلی دی چې دغه کارنامه یې په پښتو لنډیو کښې هم یاده شوې ده د دوی په هکله ویل شوې څو ټپې په لاندې ډول راوړو۔

"حاجي میرویسه جنتي شې
مونږ د گرگین لهٔ ظلمه تا خلاص کړي
یونه"
"میرویسه رب دې دیدار در کړي
چې مونږ دې خلاص کړو د پردو لهٔ
منتونه"
"میر ویس د مرگ په جېل بندي شهٔ
اوس به جرگې د پښتون څوک
راغونډوینه"xix

د دغه پښتون مېړه د قبر په کتبه نن هم دا ټپه لیدل کیږي:

"د ننگ ټوټه به مې هر هډ وي
کهٔ مې د قبر تبۍ پورته کړي مئینه"xx

## عجب خان اپریدی

عجب خان اپریدی د پښتو ټپې د پښتنو جنگي کردارونو نه یو هغه کردار دی چا چې د انگریز مخالفت په پوره مېړانه کړی و او د چا سره چې دمس ایلس نوم تړلی دی مطلب چا چې مس ایلس

تښتولي وه او بيا يې واپس پېرنګيانو ته سپارلي وه. د دوی په هکله محمد عظيم افريدے ليکي:

"د عجب خان د پلار نوم غلام حيدر و په
قام ادم خېل افريدے واو د بوستي
خېلود يونس خېل ښانګي سره يې تعلق
لرلو".[xxi]

د عجب خان په هکله په پښتو ټپه کښې ډېرې ټپې ليدل کيږي چې د هغوی لۀ جملې نه څو دلته راوړو:

"مولا دې مل شه عجب خانه
مېدان جنګ دې درته باغ د ګلو شينه
د پېغلو جونو بدل واخله
اې عجب خانه په مونږ ډېر وشول ظلمونه
کۀ عجب خان چېرې ژوندی وای
ستا د غرور سر به په زمکه وای
دشمنه".[xxii]

## ملتان خان

په پښتو ټپو کښې د يادو شويو پښتنو جنګي کردارونو نه يو هم ملتان خان دے د دوی په هکله دا مشهوره ده چې دوی به د پېرنګيانو په پوځي چاونيوحملې کولې چې په دغه لړ کښې يې پېرنګيانو ته پوره مالي او ځاني تاوانونه ور اړولي و او دغه شان په هندوانو او سرمايه دارو خلکو به يې ډاکې غورځولې او لاس ته راغلے مال دولت به يې بيا په غريبانو او بې وسو خلکو تقسيمولو. د دوی په هکله محمد عظيم افريدے ليکي:

"ملتان د تيراه اوسېدونکے او په قام زخه خېل افريدے و"[xxiii]

د ملتان خان په هکله ډېرې ټپې ویل شوي چې څو یې دلته راوړو۔

"ملتان پسې لښکرې راغلې
لکه ښکاریان چې د زمرې ښکار پسې ځینه
تاانګرېزان پرې ټول خفه کړل
یا به پانسي شې یا به وخورې پرې قېدونه"
"د ملتان دې کمال ته ګوره
په اندر شېر لکه د شېر په شان ورځینه"۔
"ورځ ټوله شوه په جنګ کښې تېره
کارتوس شو خلاص ملتان سره شهید پرې شونه"۔
"واړه ملګري یې بهادران و
دوی د ملتان به منل هر قسم حکمونه
ورځئ پرې چغه کړه ملتان
تالا کړئ نن په انګریزانو باندې خونه"۔
"د انګرېزانو سخت دښمن و
ځکه ملتان پسې خوارهٔ وهٔ لښکرونه" xxiv

عمرا خان

عمرا خان هغه مېړنے دے چا چې په نولسمه پېړۍ کښې د ملاکنډاو چترال خاوره انګرېزانو ته سره تبۍ ګرځولې ده د چا د کارنامو چې د هغهٔ وخت پوځي انګریزي افسرانو هم اعتراف کړے دے لنډه به دا وواېو چې عمراخان د پښتنو د هغو لویو مبارزینو نه یو دے چا چې په پوره مېړانه د انګرېز سامراج شهٔ په نره،کلکه او مېړانه مخالفت کړے دے او اوږده مبارزه یې ورسره کړې ده۔ دغه نر پښتون په ټپو کښې داسې یاد شوے دے:

"د جندول خان عمراخانه
ډېرې دې کونډې کړې ښېرې درته کوینه"۔

"خانه غازي عمراخانه
په تا وريږي د اسمانه رحمتونه
د ترکلانو عمراخانه
ډېرې دې کونډې کړې شېرې درته کوينه
."
"د جندول خان عمراخانه
ډېرې دې کونډې کړې نور مهٔ اخله
ازارونه"xxv

## د سېدو بابا جي

سېدو بابا جي، چې خپل نوم يې عبدالغفور اخونزاده دے د سوات په سيمه يو لوے عارف،عالم،بزرگ،صوفي،مجاهد،او غازي تېر شوے دے چې په خپل وخت کښې يې د سيکانو او انګرېزانو سره ډېرې غزاګانې کړې دي. چې په کال ۱۷۹۴عيسوي کښې پېدا او په کال۱۸۷۷عيسوي کښې وفات شوے چې د سوات په سېدو کښې دفن دے. پوهاند صديق الله ريشتين د دوی په هکله داسې ليکي:

"اخونزاده عبدالغفور د پښتنو يو لوی
روحاني مشر،لار ښوونکی،غازي او
مجاهدتېر شوی دی چې د سېدو بابا،د
سوات اخون صاحب،او د سېدو غوث په
نومونويادېږي. دی په قام صافی او په
صافو کښې کندهاری و په
(۱۲۱۳هـــ=۱۷۹۴ع) کال د سوات په
(چېړو) نومي کلي کښې پېدا شو".xxvi

د بونېر د امبېلې تاريخي غزا کومه چې د انګرېزانو سره په ۱۸۶۳ عيسوي کښې شوې ده په دې غزا کښې هم د سېدو بابا جي برخه درلوده ـ په پښتو ټپو کښې د سېدو باباجي د يو جنګي کردار په حېث ياد شوے چې دلته ترې څو ټپې را اخلو:

"په امبېله توره تيارهٔ شوه
باباجي پورته کړه همسا چې رڼا شينه

پــه امـبېـلــه دې رب شـهيـد کـړه
چې جنـازه دې د سېدو بـابـا کـويـنـه
پـه امـبېـلـه خـسـڼے وشـو
بـره سـنـګـر د بـابـاجي ورسېدنـه"۔
"بـابـاجي بـل زوی دې وشـه
د کـلـکـتې پـوري چې خـپـل کـړي وطـنـونـه
بـابـا د تـورې دې لـوګـے شم
سـتـا د همت تـورې کـفـار ورک کـړي ديـنـه
بـابـا د تـورې نـه دې جار شم
تـا د غـماز پـه زړۀ کـښې جـوړ کـړل
پـرهـرونـه
بـابـا د تـورې نـه دې جار شم
زۀ د وطـن شـپـې سـتـا پـه تـوره تـېـرومـه"۔
"د خـدای رحـمـت پـه بـابـاجي شـۀ
چې پـېـرنـګـي يـې پـه کـلـکـتـه ولـګـاونـه"۔
"چې امـبېـلـه يـې سـتـا سـېـرې کـړه
بـابـاجي اوس وربـانـدې لـوړ وايـه
بـانـګـونـه
چې امـبېـلـه يـې سـتـا سـېـرې کـړه
د سـوات فـقـيـره اوس پـرې لـوړ وايـه
بـانـګـونـه
بـېـګـا مـې خـوب لـيـدۀ عـالـمـه
پـه سـره ډولـۍ کـښې بـابـاجي غـزا لـه
ځـيـنـه"۔
"بـابـا لـۀ تـورې نـه دې ځار شم
تـا د غـلـيـم پـه سـر کـښې جـوړ کـړۀ
پـرهـارونـه"۔ xxvii

## چمـني خـان

چمـني خـان د پـښـتـو ټـپـې د جـنـګـيـالـي کـرداورنـو نـه يـو کـردار دے چې پـرېـمـانـه ټـپـې يـې پـه هـکـلـه ويـل شـوي دي د دوی پـه هـکـلـه د ويـل شـويـو ټـپـو نـه دا ځـرګـنـدېـږي چې دوی د انـګـريـز مـخـالـف و او د خـپـل دوسـت جـعـفـر خـان د لاسـه حلال شـوے دے۔ ښـاغـلے ډاکـټـر جـهـان عـالـم د دوي پـه بـاب لـيـکـي:

"دا د کال د ۱۹۲۷ شاه وخوا وخت وچې د شبقدر بټګرام د امان کلي يو تنکي زلمي چمني خان څوک چې د سکندرخان زوی ود وخت د ظلم او جبر نه بغاوت وکړو او ټوپک ته يې لاس کړود اندروني ناچاقی او زړۀ بداوي له کبله يې د وطن نه سر مخ ونغښتل او په سوونوميله لرې د سوات غرونو ته ورک شو۔ په سوات کښې چمني خان د رياست سوات په فوج کښې شامل شو او په ډېر کم وخت کښې يې د خپل عقل او نرتوب په برکت ځانته يو جوت ځاے جوړکړو د چمني خان په موجودګی کښې د رياست سوات لښکر څو ځايه ګټه وکړه هم دغه وجه وه چې د سوات ميا ګل به د چمني خان ډېر قدر کولو"۔[xxviii]

په پښتو ټپو کښې د چمني خان په باره کښې ډېرې ټپې ليدل کيږي چې دلته ترې څو ټپې د نمونې په توګه راوړو:

"د چمني خان طاقت څرګند شو
ځکه انګلېنډ کښې فرنګيان ژړا کوينه"۔

"په سنډا سر کښې يې حلال کړو
ظالم جعفر په چمني خان کړي ظلمونه
په کومو لاسو دې حلال کړو
چينجي دې وخوره د دې لاسو مړوندونه"۔

"د خوبه پاسه چمني خانه
دا ستا ملګري ستا د مرګ بنا کوينه"۔

"چمني خان تل به زنده باد وي
ددۀ مېړانه باندې خلک کړي وياړونه
چمني خان تل به زنده باد وي
پښتانۀ ږدي به يې په قبر سرۀ ګلونه"۔

"چمني خان دې زنده باد وي
د دۀ نرتوب باندې به مونږ فخر کوونه
چمني خان دې زنده باد وي
تاريخ هر چاته به قيصه د دۀ کوينه

-"
"د چمني خان د لاسه تنګ شول
انګرېز يې ځکه اوس دسر سودا کوينه
کۀ چا چمنے چرې بندي کړو
انګرېزان وايي مونږ به ورکړو انعامونه
په دامان کلي کښې ماتم دے
څوک د خفګانه کور کښې اور نۀ
بلوينه"-
"چمني خان بيا په خوب اودۀ شو
ظالم جعفر ورله چاړه په مرۍ
ږدينه"-xxix

## شمشي خان

شمشي خان د پښتو ټپې يو هغه پښتون جنګيالے کردار دے چې د دوي په باب د ويل شويو ټپو نه دا څرګنديږي چې دوی د چکدرې په مقام په شوي جنګ کښې برخه درلوده ـ د دوی په هکله جهان عالم داسې ليکي :

"وائي چې شمشي خان د سوات د چوړړی
"موجوده مدين" يو پښتون او غېرتي
ځوان و د چکدرې سره جوخت د شاه
ډهېری په غونډی کښې مورچه زن وچې د
دشمن د ګولو ښکار شواو د سوات سيند
ته ورغښتو او سيند د ځان سره لاهو
کړو د خاد ګزی کوز کلي خلقو دسيند
نه راويستواو هم هلته يې خښ کړو او
نن هم په چوړړی بابا ياديږي"-xxx

د شمشي خان په هکله ويل شوي څو ټپې په لاندې ډول راوړو:

"د چکدرې په بره ډاګ کښې
دوه ورځې دور دشمشي خان غږېدنه"-
"غازيان بيا ټول جرګې جرګې شول

د سر سنګر د شمشي خان ورسېدنه
د چکدرې په دغه ډاګ کښې
دوه ورځې دور دشمشي خان غړېدنه"۔[xxxi]

## امير محمد يعقوب خان

امير محمد يعقوب خان د امير شېر علي خان زوی او د ايوب خان (دمېوند د جګړې اتل) ورور دے چې د خپل پلار د مړينې نه وروسته په ۲۹ فروري کال ۱۸۷۹د افغانستان پاچا شوے او انګرېزانو د مېوند د غزا (جولای ۲۷ کال۱۸۸۰) نه وړاندې يرغمال کړے و۔ په دې هکله کانديد اکاډمېسن محمدابراهيم عطايي ليکي:

"محمد يعقوب درابرټس په لاس کښې بندي
واو رابرټس د بالاحصار څخه يوه
اعلاميه خپره کړه چې هيڅوک وسله نۀ
شي ګرځولی او بيا يې د کابل لوی
نظامي اوملکي مشران اعدام کړل"۔[xxxii]

د پورتني اقتباس سره سم د امير محمد يعقوب خان بنديتوب ته په لانديني ټپه کښې داسې اشاره شوې ده:

"يعقوب يې وړے کلکتې
ته ځکه ځوانان نن د مېوند جنګ لره
ځينه"۔[xxxiii]

## د پچي ګرام ملک

د پچي ګرام ملک هم په پښتو ټپو کښې د يو جنګيالي کردار په صفت ياد شوے دے چې ډېرې مېړمنې ئې د لاسه کونډې شوې دي د پچي ګرام د ملک په باره کښې محمد نواز طائر داسې ليکي:

"د سوات پچي ګرام يو ملک د قام په
مرسته د خپلو دښمنانو قتل عام کړے
و د دې جنګ د نوحې ډېرې ساندې په
سوات کښې شهرت لري".xxxiv

**د پچي ګرام ملک په هکله څو ټپې په لاندېدول راوړو.**

"د پچي ګرام ملک ته وايه
ډېرې دې کونډې کړې ښېرې درته کوينه
د پچي ګرام په پورې کږ کښې
په وينو سرۀ سول د جوارو بمبلونه".

## متفرق کردارونه

پورته راوړل شوي کردارونه ټول هغه پښتانۀ قامي جنګيالي کردارونه دي چې په قامي جنګونو کښې يې برخې اخيستې دي او هم يې د ژوند لږ ډېر معلومات په لاس کښې لرو د ليکنې په دې برخه کښې اوس د هغو ځينو مختلفو جنګيالي کردارونو يادؤنه د هغوی په هکله د ويلې شويو ټپو د راوړو په صورت کښې کوو چې په په ټپو کښې د جنګيالي کردارونو په صفت ياد شوي دي او څۀ خاص معلومات يې په لاس کښې نۀ لرو يوازې په هکله يې د ويل شويو ټپو د داخلي شهادت په بنياد تت تصوير وړاندې کولای شو.

## ځلمے

د زلمي په باب د ويل شوې ټپې نه دا په ډاګه ده چې زلمي د مومندو قبيلې سره تعلق درلود چې د روغې جوړې نۀ کولو په وجه يې ډېرې مومندې کونډې شوې وې او په لاندېنۍ ټپه کښې ترې دروغې کولو غوښتنه په داسې انداز کښې شوې ده:

"ځلميه بس کړه جوړه وکړه
مومندې کونډې شوې ښېرې درته
کوينه".xxxv

## ماسل خان

د ماسل خان په باب د ویل شوې ټپې نه داسې بریښي چې یو پښتون جنګیالے و او خپل لښکر یې درلود چې په یوه ټپه کښې یې یادونه په داسې شوې ده:

"د کوډا خېلو را روان شو
د ماسل خان لښکر لومړے حمله کوینه".[xxxvi]

فېض محمد
د فېض محمد خان د نوم سره د غازي توري راوړلو نه دا ثابتیږي چې یو جنګیالے تېر شوے او د دشمنانو لۀ خوا په حق رسېدلے چې په مړینه یې لاندینی ټپه ویل شوې:

"فېض محمد خان غازي یې مړ کړو
کۀ د اسلام په زړه یې کېښودل داغونه".[xxxvii]

## شمروز

د شمروز په هکله د ویل شوې ټپې نه څرګندیږي چې چېرته تللے بربادي یې لۀ ځانه سره وړې ده چې د لاندینی ټپې نه یې د خور شوې هېبت اندازه په اسانه سره کولاې شو.

"شمروز د غرونو په سر راغے
راکوز یې مۀ کړې رېږوي سمسور ګلونه".[xxxviii]

## معصومه ابی

**د معصومې ابۍ په هکله د ویل شوې ټپې نه دا څرګندیږي چې خپل سرتیري یې درلودل چې د ملاکنډ په غزا کښې د برخې اخیستو دپاره د روانېدلو منظر یې په لاندې ټپه کښې لیدلای شو۔**

**"د معصومې ابۍ سرتیري**
**ټول په تور برېښ د ملاکنډ غزاله**
**ځینه"۔[xxxix]**

## عبدالمتین

عبدالمتین هم په پښتو ټپه کښې د یو جنګي کردار په حېث یاد شوے دے چې دا تري په ډاګه کېږي چې یو جنګیالے تېر شوے او د لاسه یا په وجه ئې ډېرې مېړمنې کونډې شوي دي چې په لاندې توګه ورته په یوه ټپه کښې اشاره شوې ده:

**"عبدالمتین ته داسې وایئ**
**ډېرې دې کونډې کړې شېرې درته کوینه"۔**
**"عبدالمتینه نور یې بس کړه**
**ډېرې دې کونډې کړې شېرې درته**
**کوینه"۔[xl]**

## جمال خان او افضل خان

**د جمال خان په باب د ویل شوې ټپې نه معلومیږي چې جمال خان او افضل خان دوه جنګي کردارونه دي چې جمال خان، افضل خان په یوۀ جنګ کښې لۀ اټکه اړولے دے چې په ټپه کښې داسې اشاره ورته شوې ده:**

**"د خدای رحمت په جمال خان دے**
**چې افضل خان یې د اټکه واړوونه"۔[xli]**

باید ووایو چې د پورته راوړل شویو کردارونو سربېره په پښتو ټپه کښې یو لړ نور پښتانۀ او غېر پښتانۀ جنګي

کردارونه هم یاد شوي چې د غیر پښتني جنګي کردارونو د جملې نه حضرت علي،میرحتم، سکندر اعظم او نور، او دغه شان د پښتني کردارونو د جملې نه اصف خان،عثمان خان،شېردل،بخت منیر،غزن، محب الله،دوران،بادر خان،حسن خان،خان بادر،غازي،صحبت خان،شمر او نور ډېر یادولای شوچې دغه مختلف پښتانۀ کردارونه د ذاتي شخړو، بدیو، او دشمنیو په وجه د خپلو بدخواهانو لۀ خوا وژل شوي او قتل شوي دي چې په پښتو ټپو کښې د ساندو او ویرنو په شکل کښې یاد شوي دي خو دا چې زمونږ موضوع قامي جنګیالي کردارونه دي نو ځکه یې دلته یوازې نومونه راوړل شول۔

په اخر کښې به دومره ووایم چې پښتو ټپې د پښتنو د ژوند، ژواک، معاشرت، تاریخ، روایاتو، نفسیاتو، او کیفیاتو په هکله دومره ډېر معلومات په خپلې سینې کښې خوندي کړي دي چې راټولول او بیانول یې د لوړ استعداداو پوهې سره سره ډېر وخت ته اړتیا اوضرورت لري په دغه وجه مو د ټپې د خورې ورې غیږ نه دلته یوازې څو قامي جنګیالي راواخیستل او هڅه مو وکړه چې د هر کردار په باره کښې کره او سم معلومات د هغوی په هکله د ویل شویو ټپو سره یو ځاے وړاندې کړو۔

## حوالې:

[i] ژواک،محمددین،پښتني سندرې (اول ټوک)پښتو ټولنه،عمومي مطبع ،کابل،1955،ص، :295۔

[ii] خټک،خوشحال خان،د خوشحال خان خټک کلیات(اوډنه،پرتللنه عبدالقیوم زاهد مشوانی)،دانش خپرندویه ټولنه، اسد دانش مطبع،کابل،دریم چاپ 2013،ص:39۔

[iii] عالم،ډاکټرجهان،پښتو ټپه او تلمیحات،پښتو اکیډمي کوټه،کوټه، اګست 2013،ص:113۔

[iv] ایضاً،ص:113۔

[v] غبار، میر غلام محمد، احمدشاه بابا افغان، (ژباړن امین الله دریځ)، دانش کتابخانه ډهکي نعلبندي قیصه خواني، پېښور، 1377 هجري شمسي، ص: 20۔

[vi] انولډسن، جینز، سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه، انټرلټ فاونډېشن پشاور پاکستان، پېن ګرافکس اسلام اباد پاکستان، څلورم چاپ2004، ص: 33۔

[vii] طائر، محمدنواز، روهي ثقافت ټپه او ژوند، حکومت خېبر پښتونخوا، جدون پرنټنګ پریس پېښور، 2012، ص: 32۔

[viii] ایضاً، ص: 241، 119، 111۔

[ix] ادیب، عبدالکافي، خوږ پاڼې، یونیورسټي بک ایجنسي خېبربازار پېښور، ماسټرپرنټرزمحله جنګي پېښور، دریم اېډیشن1995، ص: 123۔

[x] ایضاً، ص: 123۔

[xi] طائر، محمدنواز، روهي ثقافت ټپه او ژوند، پښتو اکېډیمۍپېښوریونیورسټي، غني سنزپرنټرزمحله جنګي پېښورښار، 1980، ص: 202۔

[xii] محسود، علي خان، له پیرروښانه تر باچاخان پورې، دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه قیصه خوانی بازار پېښور، چاپ کال نهٔ لري، ص: 38۔

[xiii] شاهین، محمدپروېش، ګل وریڼې ځوکې، شعېب سنزپبلشرزجي ټي روډ اودهیانه بازارمینګوره سوات، فاران پریس مکان باغ مینګوره، فروري1989، ص: 106۔

[xiv] ایضاً، ص: 106۔

[xv] ادیب، عبدالکافي، خوږ پاڼې، یونیورسټي بک ایجنسي خېبربازار پېښور، ماسټرپرنټرزمحله جنګي پېښور، دریم اېډیشن1995، ص: 122۔

[xvi] لایق، سلېمان، پښتو لنډۍ، پښتو ټولنه کابل، دولتي مطبع کابل، 1363هـ، ص: 172۔

[xvii] طائر، محمدنواز، روهي ثقافت ټپه او ژوند، پښتو اکېډیمۍپېښوریونیورسټي، غني سنزپرنټرزمحله جنګي پېښورښار، 1980، ص: 205۔

[xviii] شاهین، پېغله سلمٰی، د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، جدون پریس پېښور، 1988,89، ص:78.

[xix]عالم،ډاکټرجهان،پښتو ټپه او تلمیحات،پښتو اکېډمي کوټه،کوټه، اګست 2013، ص:302۔

[xx]طائر،محمدنواز،خوږي مصرعي د چا دخلي،تانه ادبي ټولنه ملاکنډ، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، 2017، ص:29۔

[xxi]افریدے،محمدعظیم ،دري ننګیالي،نور محمد افریدے،حمیدیه پریس پېښور، مارچ 1973، ص:71۔

[xxii]د غازي عجب خان اپریدي یاد ،خوشحال فرهنګي ټولنه کابل،1370هجري،ص:15۔

[xxiii]افریدے،محمدعظیم ،دري ننګیالي،نور محمد افریدے،حمیدیه پریس پېښور، مارچ 1973، ص:33۔

[xxiv]غریب یار،سیدا ګل،لندی یا ټپې،ختیځ کلتوري ټولنه،پېښور،1997،ص:57۔

[xxv]طائر،پروفېسرمحمدنواز،روهي ثقافت ټپه او ژوند،حکومت خېبر پښتونخوا،جدون پرنټنګ پریس پېښور، 2012، ص:319۔

[xxvi]رشتین، پوهاند صدیق الله،نومیالي غازیان او پوهان،یونیورسټي بک ایجنسي خېبر بازار پېښور، 1988، ص:73۔

[xxvii]غریب یار،سیدا ګل،لندی یا ټپې،ختیځ کلتوري ټولنه،پېښور،1997،ص:8۔

[xxviii]عالم،ډاکترجهان،پښتو ټپه او تلمیحات،پښتو اکېډمي کوټه،کوټه، اګست 2013، ص:207۔

[xxix]عالم،ډاکترجهان،پښتو ټپه او تلمیحات،پښتو اکېډمي کوټه،کوټه، اګست 2013، ص:208۔

[xxx]عالم،جهان،ټپه او صنعتونه،مرکه پبلي کېشنز مردان،دانش کتابخانه ډهکي نعلبندي، مئ2003، ص:107۔

[xxxi]هم دغه اثر، مخو107۔

[xxxii]عطایي،کاندید اکاډمېسن، محمد ابراهیم،د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه،مېوند خپرندویه ټولنه کابل،دمېوند خپرندویي ټولني مطبع کابل،2015، ص: 127۔

[xxxiii]ژواک،محمددين،پښتني سندري (اول ټوک)پښتو ټولنه،عمومي مطبع ،کابل،1955،ص:305۔

[xxxiv]طائر،محمدنواز، روهي ثقافت ټپه او ژوند،پښتو اکېډيمي‌پېښوريونيورسټي،غني سنزپرنټرزمحله جنګي پېښورښار،1980،ص:203۔

[xxxv]لايق،سلېمان،پښتو لنډۍ،پښتو ټولنه کابل،دولتي مطبع کابل،1363،ص:140۔

[xxxvi]ژواک،محمددين،پښتني سندري (اول ټوک)پښتو ټولنه،عمومي مطبع ،کابل،1955،ص:139۔

[xxxvii] اديب،عبدالکافي،بکهرے اوراق، ص: 26۔

[xxxviii]شاهين،پېغله سلمٰی،د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر،پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي،جدون پريس پېښور،1988،89،ص:44۔

[xxxix]طائر،پروفېسرمحمدنواز،روهي ثقافت ټپه او ژوند،حکومت خېبر پښتونخوا،جدون پرنټنګ پريس پېښور،2012،ص:523۔

[xl] لايق،سلېمان،پښتو لنډۍ،پښتو ټولنه کابل،دولتي مطبع کابل،1363،ص:349۔

[xli]طائر،محمدنواز،خوږي مصرعي د چا دخلي،تانه ادبي ټولنه ملاکنډ،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،2017،ص:44۔

Pukhtunkhwa Journal

**References:-**

1. Zawak,Muhammad Din,Pukhtanay Sandary( awal tok) Pakhto tolana, amoi matba Kabal,1955.page, 295.

2.Khattak,Khushal,da khushal Khan Khattak Kulyat,(aodana,partalana,Abdul Qayum Zahid Mashwani) Danish Khaparwandoia Tolana ,Asad Danish Matba Kabal , draym chap ,2013,page, 39.

3.Alam,Jahan,Dr,Pakhto Tappa ao Talmihat,Pakhto Academy Quetta,Auhust 2013,age, 113.

4, Ibid,page,113.

5.Ghubar,Mirghulam Muhammad,Ahmad Shah Baba Afghan(zabaran Amin ullah darez) Danish Kitabkhana daki nalbandi qisa khawani,Peshawar,1377 hijri shamsi,page, 20.

6.Enveldson,Jens,Spogmiya karang waha rakhza,Inter lit Foundation Peshawar Pakistan,PenGrafics Islamabad Pakistan,Saloram Chap, 2004,page, 33.

7.Tair,Muhammad Nawaz,Rohi saqafat Tapa ao Zawand,Hakomat Khyber Pakhtunkhwa,Jadon Printing Press Pekhawar,2012.page,32.

8.Ibid pages,111,119,241.

9. Adib, Abdulkafi, khwaray Panray,University book Agency khyber Bazar Pekhawar,master printers mahala jangi pekhawar,draym edition 1995, page, 123.

10. Ibid page,123.

11. Tair,Muhammad Nawaz, Tapa ao Zawand,Pakhto Academy Pekhawar University,Ghani sons printers mahala Jangee Pekhawar,1980.page,202.

12. Mehsud,Ali Khan,la Peer rokhana tar Bacha khana poray,Danish Khaparwandoia Tolanay takhniki sanga Qisa khawani bazar Pekhawar,page, 38.

13. Shaheen,Muhammad Parvesh,gulwareny soky,shoib sons publisher G.T road odiyana bazar Mengora swat,faran press maqan bagh Mengora.February 1989,page,106.

14. Ibid,page, 106.

15. Adib,Abdulkafi,khwaray Panray,University book Agency khyber Bazar Pekhawar,master printers mahala jangi pekhawar,draym edition 1995, page, 122.

16. Laiq,Slaiman,Pakhto Landai,Pakhto Tolana Kabal,dawlati matba kabal,1363,page,172.

17. Tair,Muhammad Nawaz, Tapa ao Zawand,Pakhto Academy Pekhawar University,Ghani sons printers mahala Jangee Pekhawar,1980.page, 205.

18. Salma Shaheen,da Pakhto Tappay maashart ao sakafati asar,Pakhto Academy Pekhawar University ,Jadoon Press Pekhawar,page,78.

19. Alam, Jahan,Pakhto Tappa ao Talmihat,Pakhto Academy Quetta,August 2013,page, 302.

20.Tair,Muhammad Nawaz, Khwagy misry da cha da kholy,Tanra adabi tolana Malakand,Aaraf printers mahala jangee Pekhawar, 2017,page,29.

21. Afridi, Muhammad Azim,dray nangyali ,Noor Muhammad Afridi,Hamidia press Pekhawar,March,1973,page,71.

22. Da Ghazi Ajab Khan Apridi yad,Khushal farhangi tolana Kabal,1370,page,15.

23. Afridi, Muhammad Azim,dray nangyali, page,33.

24. Ghareeb Yar, Saida Gul, Landai ya Tappay,Khatez kaltori tolana,Pekhawr,1997,page,57.

25. Tair, Muhammad Nawaz,Rohi saqafat Tapa ao Zawand,page 319.

26. Reshteen,Pohand Sadiqullah,Nomyali Ghaziyan ao pohan,University book agency khyber bazar pekhawar,1988,page,73.

27. Ghareeb Yar, Saida Gul, Landai ya Tappay,page,8.

28. Alam, Jahan,Pakhto Tappa ao Talmihat,page,207,

29. Alam, Jahan,Pakhto Tappa ao Talmihat ,page,208.

30. Alam,Jahan,Tappa ao Sanatona ,page,107.

31. Ibid, page, 107.

32. Ataye ,Kandid Acadamicin,Muhammad Ibrahim,da Afghanistan pa maasir tarikh yawa landa katana,Mewand khaparwandoia tolana Kabal,2015,page,127.

33. Zawak,Muhammad Din,Pukhtanay Sandary (awal tok) .page, 305.

34. Tair, Muhammad Nawaz, Rohi saqafat Tapa ao Zawand,page,203.

35. Laiq, Slaiman,Pakhto Landai , page,140

36. Zawak,Muhammad Din,Pukhtanay Sandary (awal tok) .page, 139.

37. Adib, Abdulkafi, khwaray Panray , page, 26.

38. Salma Shaheen,da Pakhto Tappay maashart ao sakafati asar,page,44,89.

39. Tair, Muhammad Nawaz, Rohi saqafat Tapa ao Zawand,page,523.

40 Laiq, Slaiman,Pakhto Landai , page,349.

41. Tair,Muhammad Nawaz, Khwagy misry da cha da kholy,page,44.